مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۹/۱۲/۱۱

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### شپږمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښیني کندهاري په باب څو پرله پسې لیکنې خپرې کړې. ځینو دوستانو راڅخه وغوښتل چې که دا موضوع یو څه پسې پراخه سي، ښایي ګټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نیستي کې مې دا ځېرنه د یوه کتاب په بڼه ترتیب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري لیکنې او په دې باب د نورو خپرو سوو لیکنو ترمنځ مکررات ووینې، د مهربانی له مخې دې د احسن تکرار په سترګه ورته وګوري او ما دې وبخښي.**

م. هوتک

**د سیستان مسئله:**

سید نورمحمد شاه د سیستان د سرحد او د هیلمند د اوبو د ویش له پاره په ۱۲۸۸هـ ق کال له ایراني مقاماتو سره د خبرو په نیامت هغه هیواد ته ولاړ. د ایران او انګریزانو تر منځ د پاریس ترون (۱۸۵۷م) پراساس باید په دغه راز مسایلو کې باید انګرېزي نماینده د حَکم په توګه حاضر وي، له همدې اسیته ئې دګولډ سمیت (Goldsmith) په نامه یو انګرېز هم په دغو خبرو کې برخه واخیستله. د ایران له خوا په دې خبرو کې میرزا معصوم خان او وروسته مرزا ملکم خان (۵۰) تاکل سوی وو.

علامه رشاد کښلي دي :" انګلیسي هیئت ددې له پاره چې د ایران او افغانستان تر منځ ئې د نفاق زنې وکړي او ددې بیلتون له امله د شرق مقاومت د خپلو استعماري پلانو په مقابل کې لا ښه ضعیف کړي، بې له کوم تاریخي او حقوقي حق څخه ئې د هلمند په کښتنیو اوبو کې ایران د پنځوسو میلو په اوږدو کې شریک وګاڼه." (۵۱)

سید نورمحمد شاه له دې پرېکړې سره مخالفت وکړ. انګلیسانو د امیر شیرعلیخان د رضائیت حاصلولو په نیامت امیر ته پنځلس زره توپکه او لس لکه روپۍ ومنلې خو امیر ددغه مبلغ له اخیستلو څخه انکار وکړ او خپل مخالفت ته ئې دوام ورکړ خو توپک ئې قبول کړل.

د دغو خبرو په جریان کې د امیر شیرعلیخان د سختي ناروغی او احتمالاً مړیني اوازه خپره سوه (۵۲)، سید نورمحمد شاه کابل ته د بیرته تګ فیصله وکړه اوپه عجله تهران ته ولاړ او د عرب بحیرې له لارې بمبئي او وروپسې کابل ته ورسېد او دسیستان شخړه همدغسې لاینحله پاته سوه.

**د سملې کنفرانس:** (۵۳)

د سیستان په قضیه کې د انګلیسانو غیر منصفانه دریځ امیر شیرعلی خان خورا زیات خوابدی کړی وو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

لارډ نارت بروک Lord Northbrook (1826-1904) ظاهراً ددغه خپګان د ايسته کولو او د دواړو لورو تر منځ د تفاهم په نيامت امير شيرعليخان په ۱۸۷۳م کال کې د هند ( سِملې)ته د ورتګ بلنه ورکړه چې د ګولډ سميت له حکميت څخه پر را ولاړ سوي جنجال او ستونزو خبري وکړي او له امير څخه ئې وغوښتل چې د انګرېزي حکومت يوه نماينده ته اجازه ورکړي چې په کابل کې له ده سره وګوري.

امير دا خبره په يوه عام دربار کې له ملت سره شريکه کړه . تر غور وروسته د دربار خلکو فيصله وکړه چې د انګرېز نماينده ته دي د راتګ اجازه نه ورکول کېږي.

غبار کښلي دي:

(ترجمه): امير د ۱۸۷۳م کال د اپريل پر ۲۵مه د سملې کنفرانس ته خپل صدراعظم سيد نورمحمد شاه د ځان د نماينده په توګه واستاوه او نوموړي د جولای په مياشت کې له ګورنر جنرال نارت بروک او خارجه وزير ايچسن (Aitchson) سره خبري پيل کړې. په دې خبرو کې انګرېزي لوري پيشنهاد وکړ چې د افغانستان دولت دي په خارجي سياست کې د هند له دولته مشوره اخلي ـ په بلخ، هرات او کندهار کې دي د افغانستان د سرحداتو د څارني له پاره د انګرېزانو سياسي او پوځي نمايندګانو ته له دايمي اقامت سره موافقه وکړي. ددې په بدل کې به انګرېز دولت حاضر سي چې پر افغانستان باندي د بهرني يرغل پر وخت مرسته وکړي او دا مرسته به هم د انګرېز پ قضاوت پوري تړلي وي.

سيد نورمحمد شاه دا وړانديز رد کړ او پر ځای ئې په څرګنده توګه وويل چې د افغانستان له پاچا سره دي د انګرېزي دولت دوستي تضمين سي او د انګرېزانو مرسته به د امير شيرعليخان په غوښتنه پوري تړلي وي او د افغانستان په ولايتو کې د انګرېزي استازو اقامت هم په امير پوري اړه ولري. سيد نورمحمد شاه د ترون تر بشپړېدو دمخه د اګست په مياشت کې افغانستان ته ستون سو.

انګرېزانو په سپتمبر کې امير شيرعليخان ته ليک وکيښ او په هغه کې ئې خپلې غوښتني تکرار کړې وې او پر څنګ ئې د پنځلسو زرو ټوپکو او يو مليون روپيو مرسته ژمنه هم کړې وه. امير ټوپک ومنل خو روپۍ ئې و نه منلي او په افغانستان کې ئې د انګرېزي استازو اقامت هم رد کړ. (۵۴)

علامه رشاد ليکلي دي : له لارډ نارت بروک او د هند د خارجه وزير ايچسن (۵۵) سره په خبرو کې" سيد نورمحمد شاه د سيستان په شخړه کې د انګليسي هيئت ناانصافي وغندله او د روسانو د سريع پيشرفت خطرات او د افغاني عساکرو د يوه ژر او غښتلي تسليح او تجهيز ضرورت ئې په خورا سياسي مهارت اظهار کړ. کله چې انګليسي هيئت په مزار، هرات او کندهار کې د خپلو حربي او سياسي نمايندګانو د قبول غوښتنه وکړه، سيد نورمحمد شاه وويل : زه باور نه لرم چې امير صاحب به ستاسي دا غوښتنه ومني. زه چې د هند حکومت په بلنه صرف د برطانوي دولت د هيلو او ارزوګانو د اورېدلو له پاره دلته راغلی يم، د هيڅ يوې قطعي فيصلې واک نه لرم." (۵۶)

## د پېښور کنفرانس:

د انګلستان حکومت د محافظه کار ګوند صدراعظم لارډ سالسبري (Lord Salisburry) په ۱۸۷۵م کال کې د هند وايسرا لارډ نارت بروک ته د فارورډ پاليسي پروګرام ورکړ. لارډ نارت بروک د افغانستان خوا ته د پرمختګ له سياست ( فارورډ پاليسي) سره مخالفت وکړ. له همدې اسيته له وظيفي څخه مستعفي سو او پر ځای ئې لارډ ليټن (Lord Lytton) (۵۷) وټاکل سو. د ليټن له تقرر سره سمدستي انګرېزانو پر بلوچستان باندي لښکر کښي وکړه او کويټه ئې ونيوله. دغه راز ئې په وزيرستان کې هم عسکري سوقيات وکړل. لارډ ليټن له دی سوقياتو سره په څنګ کې ئې په افغانستان کې د خپلو نظامي او سياسي استازو د منلو له پاره خورا زيات فشارونه پر امير شيرعليخان باندي راوستل. امير مجبور سو چې د سيد نورمحمد شاه په مشرۍ يو سياسي هيئت پېښور ته ولېږي او هلته له انګرېزي مقاماتو سره پر اړوندو مسئلو باندي خبري وکړي. هيئت په پېښور کې له انګليسي نماينده سر لېويس پيلي (Sir Lewis Pelly) (۵۸) سره د ۱۸۷۷م کال د جنورۍ پر ۳۰مه خبري پيل کړې و د مارچ تر ۱۹ پوري ئې دوام وکړ.

غبار کښلي دي:

(ترجمه): د هند نوي وايسرای ليټن يو لړ وړانديزونه امير شيرعليخان ته وړاندي کړل او هغه دا چې افغانستان به له روسيې سره د انګرېز بې سلا او مشورې اړيکي نه نيسي، په کابل او هرات کې به انګرېز نژاده نمانيګان ومني ... او نور.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

لیټن دا هم زیاته کړي وه چي که امیر ددې وړاندیزو منلو ته تیار وي نو خپل نماینده دي پېښور ته د خبرو له پاره راولیږي او که ئې منلو ته حاضر نه وي، د نماینده راتګ ته اړتیا نسته.

امیر شیرعلیخان سره له دې چي له انګرېزي دولت سره د یوې عزتمني دوستی له ټینګولو څخه مایوسه سوی وو، بیا ئې هم خپل وروستی کوښښ وکړ چي د انګرېزانو په پلان کي څه تعدیل راولي او د همدې منظور له پاره ئې د ۱۸۷۷ په جنوري کي د صدراعظم سید نورمحمد شاه په مشرۍ یو هیئت د مذاکرې له پاره پېښور ته ولېږه. له صدراعظم سره میراخور احمد جان خان هم ملګری وو.

دې هیئت په پېښور کي د وایسرای له نماینده پیلي سره خبري وکړي. نماینده د لیټن پخواني وړاندیزونه رامخته کړل خو سید نورمحمد شاه هغه ټول وړاندیزونه په مستدلو دلایلو او نه ردېدونکي منطق په دیپلوماتیکو آدابو رد کړل. دې خبرو د مارچ میاشتي تر نیمایي پوري دوام وکړ او انګرېز استازی د سید نورمحمد شاه د دلایلو پر وړاندي په هره برخه کي پاته راغی.

د خبرو په بهیر کي صدراعظم ناڅاپه ناروغ سو او د ۱۸۷۷م کال د مارچ پر ۲۶مه وفات سو او افغانستان یو صادق، تجربه کار او د سیاست په باریکیو پوه سیاستمدار له لاسه ورکړ.

امیر د خبرو د دوام په نیت مستوفي حبیب الله خان او خارجه وزیر میرزا محمد شاه خان پېښور ته ولېږل خو دا نوی هیئت افغان سرحد ته رسېدلی وو چي لویس پیلي د لارډ لیټن د تیلګراف له مخي د کنفرانس ختم اعلان کړ او مستوفي بیرته کابل ته ستون سو.

د پېښور تر کنفرانس وروسته حالات د افغان ـ انګلیس د دوهم جنګ لور ته سوق سول او د امیر شیرعلیخان تر مړیني وروسته د نوموړي ناروغ او بې ارادې زوی امیر محمد یعقوبخان د ګندمک تړون لاسلیک کړ. (۵۹)
زه به په دې برخه کي ددغه کنفرانس د پیل د یوې برخي بیان د کلونل ایچ - بي - هنا (Colonel H. B. Hanna) له کتاب (The Second Afghan War) لومړي ټوک ۱۲۱ ـ ۱۴۸ مخونوڅخه په لنډ ډول را نقل کړم. (۶۰)

سیدنورمحمد شاه او احمد خان له عطا محمد خان سره د ۱۸۷۶ع کال د دسمبر پر ۳۱مه له کابله روان سول او د ۱۸۷۷ع کال د جنوری پر ۲۷مه پېښور ته ورسېدل. د جنوری پر ۲۸ مه سر لیویس پیلي د هغوی د احوال پوښتني او د خبرو له پاره د نېټي ټاکلو له اسیته ډاکټر بیلیو ددوی استوګنځي ته ور واستاوه.

نورمحمد شاه ناجوړه وو خو د کوم کار له پاره چي هغه پېښور ته راغلی وو، هغه کار دی نور هم اندېښمن کړی وو. ډاکټر بیلیو له هغه سره په کندهار کي د لمسدن د ماموریت پر مهال ( ۱۸۵۷ع) پېژندلي وه. بیائې په ۱۸۶۹ع کال په امباله کي او په ۱۸۷۲ع کال د سیستان پر قضیه باندي د خبرو پر وخت کله کله خبري اترې هم کړي وې. ډاکټر بیلیو تر احوال پوښتني وروسته سید نورمحمد شاه ته وویل چي هیله من دئ په دې کور کي به ستاسي ټولي اړتیاوي پوره او پر خیال به مو برابري وي. نورمحمد شاه په جواب کي ورته وویل چي زه د خپل شخصي ارامی او خوشالی په سوچ کي نه یم. دا وخت زه د هغي قضیې په باب په فکر کي ډوب یم چي د هغي له پاره پېښور ته راغلی یم. ډاکټر بیلیو ورته وویل چي هیله ده هر څه به خیر سی. سید نورمحمد شاه ورته زیاته کړه چي زه او امیر صاحب دواړه تا ته د خپل دوست په سترګه ګورو خو د انګلیس حکومت ته په دغه سترګه نه سو کتلای. امیر صاحب د برتانیا د حکومت پر صداقت باندي شکمن دئ او ددي شک له پاره ډېر دلایل سته ... د دغه حکومت په خبرو او عمل کي ډېر توپیر لري. که رشتیا هم د برتانیا حکومت د افغانستان په کورنیو چارو کي د لاسوهني نیت نه لري نو بیا ولي په افغانستان کي د انګرېزي افسرانو د را لیږلو له پاره پر موږ باندي دونده زیات فشار اچوي. په داسي حال کي چي لارډ لارنس او لارډ مایو او لارډ نارت بروک دا خبره منلي وه چي ددغه تجویز د مخالفت له پاره ډېر زیات موجه دلایل سته. نورمحمد شاه دا هم ورته وویل چي افغانان د برتانیا په نسبت یو کمزوری قوم دئ خو هغوی آزاد خلک دي او د عزت ژوند ورته ډېر اهمیت لري. امیر صاحب د برتانیا پر حکومت هغه وخت بې باوره سو چي لارډ نارت بروک د یعقوبخان په معامله کي خان را ګډ کړ، د واخان والي ته ئې د امیرصاحب له مشورې پرته سوغاتونه ولیږل ... اوس حالات وخیم سوي دي او د هغو د فیصله کولو له پاره وروستی موقع پاته ده . خدای ښه پوهیږي چي سبا به څه پېښیږي.

سید نورمحمد شاه چي د پېښور کنفرانس ته له کابله رهي کېدی، هم ناروغه وو او دغه سبب وو چي تر پېښوره ئې مزلونه ورو ورو وهل. په پېښور کي ئې ناروغي پسي زیاته سوه او د ۱۸۷۷ع د مارچ پر ۲۷مه وفات سو. جنازه ئې د امیر شیرعلیخان په امر کابل ته راوړه سوه او په یک لنګه کوتل کي ئې د امیر په امر د سلطنت ولیعهد شهزاده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

عبدالله جان او د دربار یوه لو ډله مخي ته ور وتلي وه او په خورا عزت او درناوئ سره ئي په شهدای صالحین کي د بالاحصار د شرقي دروازې په خوله کي خاورو ته وسپاره.

علامه حبیبي په دي باب کښلي دي:

"جنازۀ او را بامر امیر شیر علی خان بکابل انتقال دادند... ولی متاسفانه مرقد این صدراعظم وطن خواه بعد از سقوط سلطنت امیر شرعلی خان در جنگ دوم ناپدید کرده شد و اکنون بصورت واضح معلوم نیست.
از یکی از ارباب خبرت و بصیرت شنیدم، که یکی از سرداران کهن سال محمدزائی آنرا دیده بود، و باو سراغ آنرا داده است، آیا برای قدردانی از خدمات بزرگ این سیاست مدار وطن خواه شایان نیست که مراجع فرهنگی و اداری اکنون آنرا دریابند، ولا اقل یک لوحهٔ سنگی بران نصب کنند؟ تا خدمات این شهید وطن در اذهان نسل جدید باقی ماند...." (۶۱)

## د شپېړمي برخي لمنلیکونه:

۵۰ــ غبار ، افغانستان در مسیر تاریخ ، ج ۱صــ ۵۹۹
۵۱ــ کندهار مجله ، ۱۱مخ
۵۲ــ سراج التواریخ، ج۲ صـ ۱۹۱
۵۳ــ سمله یا شیمله د هندوستان په شمال لویدیځ کي واقع ده. دا ځای په ۱۸۶۴ کي د برتانوي هند د دوبي ( اوړي) پایتخت وګرځول سو او د هند تر خپلواکۍ اخیستلو وروسته د پنجاب پایتخت سو. اوس د هیماچل پرادیش ایالت پایتخت دئ.
۵۴ــ غبار ، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول ـ ۶۰۰مخ
۵۵ــSir Charles Aitchison (1832 -1896)د پنجاب ګور نر وو. ده په ۱۸۸۶م کال په لاهور کي تاسیس کړ. په اوو ټوکو کي ئي یو زیات شمېر ترونونه، معاهدې او سندونه راغونډ کړي او له کلکتي څخه ئي خپاره کړي ول.
۵۶ــ کندهار مجله ـ د ۱۳۴۱ش کال د سنبلي ګڼه ـ ۱۱مخ
۵۷ــ Edward Robert Lytton (1831-1891)له ۱۸۶۷م څخه تر ۱۸۸۰م پوري د هندوستان وایسرای وو.
۵۸ــ Sir Lewis Pelly (1825-1892) له ۱۸۸۵م څخه تر ۱۸۹۲م پوري د انګلستان د پارلمان غړی وو. ایسټ انډیا کمپنۍ ته په ۱۸۴۰م کي شامل سو. د افغانستان، فارس، عمان او بلوچستان سره د خبرو په یو شمېر کي برخه اخیستې وه.
۵۹ــ غبار، ج ۱ــ ۶۰۲مخ
۶۰ــ کرنیل هنا د افغان ــ انګلیس د دوهم جنګ پر وخت په هند کي پوځي خدمات لرل . باید ووایم چي ارواښاد قاضي عطاء الله خان د پښتنو تاریخ په دریم ټوک ــ له ۲۳۰مخ وروسته هم د کرنیل هنا له دغه کتاب څخه زیاته استفاده کړې ده. ما (هوتک) د هنا د کتاب دغه مطالب د پښتنو تاریخ له اړوند متن سره څو ځایه مقابله کړل او کټ مټ مي سره ورته وموندل.
۶۱ــ مجلهٔ آریانا ، شماره ششم ، ص ۳، قوس و جدی ۱۳۴۸ش

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ